SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال یو څلویښتمه گڼه پرله پسي (۳۲۸) یکشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ربیع الاول (۱٦) د۱۳۷۹هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتې(۲۹) د ۲۰۰۰میلادي کال د جون (۱۸)

محترم ملا عبدالحي «مطمئن» له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي :

اسلامی امارت د هیواد په بیا رغونه کی حیاتی برياوی تر لاسه کړی

امریکا او د هغوي ټول متحدین له اسلامي امـــارت سره د مقابلي ډگر ته راوتلي دي

زموږ او منځني اسیا د هېوادونو تر منځ ستونزي د خبرو له لاري حل کېداي شي

درنو لوستونکو!

د هیواد د روان حالت په اړه زموږ خبریال د کندهار د اطلاعاتو او کلتور له محترم رئیس ملا عبدالحي مطمئن سره مرکه کړي چي لوستلو ته یې ستاسو پام را گرځوو .

پوښتنه : د هیواد جاری وضع او حالات څرنگه ارزیابی کوی ؟

خراب افغانستان له ۲۱ کلونو راهیسی په سیاسی نظامی او اقتصادی لحاظ له زیاتو ستونزو او تحولاتو سره لاس او گریوان دی په افغانستان کی

۳ مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عـدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگـــاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د اسلامی امارت د کرنی وزیر محترم مولوی عبداللطیف منصور له شریعت اوونیزی سره په مرکه کی :

دوچکالي د اغیزو د مخنیوی لپاره لازم اقدامات تر سره شوی

په لومړی پړاو کـی د وچـکالي ځپـلو لپـاره یو نیـم ملیارد افغاني منظوري شوی

له بهـــرنیو خـــیریه مؤسســـو سره د هغـــوی ستـــونزی مـــطرح شوی

رواني وچکـــالي له افغـــانستانه ســــــوا نور ملکـــونه هم متاثر کړی

شریعت : قدرمنو لوستونکو! زموږ خبریال په هیواد کی د رامنځته شوی طبیعی ناورین (وچکالي) او له دی امله د رامنځته کیدونکو بدمرغیو او دغه راز د هیواد د کرنی او زراعت د څرنگوالی په باب د افغانستان د اسلامی امارت د کرنی وزیر محترم مولوی عبداللطیف منصور سره مرکه کړی چی دا دی ستاسو پام یی لوستلو ته را گرځوو .

په پیل کی د کرنی وزیر محترم مولوی عبداللطیف «منصور» وویل : څرنگه چی زموږ ټول مجاهد ملت ته څرگنده ده، روانی وچکالي زموږ پر هیواد سربیره د سیمی یو شمیر نور هیوادونه لکه هندوستان، پاکستان او ایران هم ځپلی او پر دغو سیمو باندی یی هم ناوړه اقتصادی تاثیرات پر ځای پریښی دی. د افغانستان د اسلامی امارت د کرنی وزارت په لومړی سر کی هغه خلک او مالداران چی په جنوب لویدیځ زون کی له سختی

٤ مخ

در ولایت پکتیا ۵۸ باب مدرسه ترمیم و باز سازي گردیده است

به منظور ایجاد زمینه هاي بهتر در عرصه تعلیم و تربیه در ولایت پکتیا تا کنون پنجاه و هشت مدرسه ترمیم و باز سازي گردیده است .

این مطلب را محترم مولوي نیك محمد رئیس معارف ولایت پکتیا در مصاحبه با خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر ابراز داشته افزود : اکنون در ولایت پکتیا هشتادو یك باب مدارس دیني و عصري فعال بوده و هجده هزار طالب العلم در مدارس متذکره مصروف آموزش میباشند.

با ترمیم و باز سازي مدارس در ولایت پکتیا و ایجاد زمینه هاي مناسب براي طالب العلمان همکاري بیشتر مردم را با ریاست معارف ولایت پکتیا فراهم ساخته و امسال نسبت به سال گذشته در تعداد جدید الشمولان مدارس سه هزار طالب العلم افزود گردیده است . این مسئله نشان

ص ٤

د امریکی د لومالیندا او کابل پوهنتون تر منځ د توامیت په عملی کولو موافقه وشوه

هغوی به د کابل د طب له انستیتوت سره د طبی تجهیزاتو ، لابراتوارونو او کمپیوتری وسایلو مرسته کوی

مولوي حمد الله نعماني

د امریکا د متـحـده ایالاتو د کلیفورنیا ایالت د لومالیندا پوهنتون او د دغه هیواد د نورو پوهنتـونونو له مقاماتو سره د افغانستان د اسلامی امارت د هیأت له خبرو څخه مهمی او د یادونی وړ نتیجی تر لاسه شویدی. د لورو زده کړو وزیر محترم مولوی حمد الله نعمانی د باختر د اطلاعاتی آژانس خبریال ته د دغه ټکی د څرگندونی په ترځ کی وویل د اسلامی امارت هیأت امریکا ته د

٤ مخ

د هرات ولایت په مدرسو کی د تعلیمی لایحو د لا ښه تطبیق په خاطر لازم تصمیمونه ونیول شول

د هرات ولایت په مدرسو کی د تعلیمی لایحو د لا ښه تطبیق په مقصد پرون د دغه ولایت د پوهنی په ریاست کی یوه غونده جوړه شوه .

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په دی غونده کی چی د هرات ولایت د پوهنی د رئیس محترم مولوی نعیم گل صدیقی په مشری او د دغه ریاست د مشرتابه هیأت او د دغه

٤ مخ

د افغانستان په شمال لویدیځ زون کی د وچکالی له امله له مصیبت ځپلو خلکو سره :

د نړیوالو خیریه موسسو او سازمانو له خوا هیڅ راز بشری مرستی ندی شوی

د افغانستان په شمال لویدیځ زون کی د وچکالی له امله له مصیبت ځپلو خلکو سره د نړیوالو خیریه موسسو او سازمانو لخوا هیڅ راز بشری مرسته نده شوی .

د شمال لویدیځ زون تنظیمیه رئیس محترم ملا خیر الله خیر خواه د باختر د اطلاعاتی آژانس له خبریال سره په تیلفونی خبرو کی د دغه ټکی د څرگندولو په

ص ٤

طي محفلي اطلاعنامه هاي طالب العلمان دارالایتام مرکزي ولایت کنر توزیع گردید

اطلاع نامه هاي طالب العلمان دارالایتام مرکزي ولایت کنر طي محفلي توزیع گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در محفلیکه بهمین مناسبت به اشتراك استادان طالب العلمان دارلایتام مرکزي وعده از مسوولین امارتي ولایت کنر دایر

ص ٤

په سعودی عربستان کی اوسیدونکو افغانانو د هیواد له وچکالي ځپلو سره د مرستی غونډه وکړه

په ریاض کی اوسیدونکو افغانانو تیره شپه د افغانستان په لوی سفارت کی غونډه جوړه کړی وه د غونډی برخه والو لس زره ریاله په هیواد کی د وچکالي ځپلو سره د مرستی له پاره را ټول کړل او د نوری مرستی وعده یی هم وکړه .

٤ مخ

د پکتیکا ولایت د بر مل په ولسوالی کی :

د یو شمیر کرامو حافظانو د فضیلت پگړی وتړل شوی

د پکتیکا ولایت د برمل په ولسوالی کی د یو شمیر کرامو حافظانو د فضیلت پگړی وتړل شوی.

د باختر اطلاعاتی آژانس

٤ مخ

په هند کي :

د نژادی تو پیر خونړی ډالی

په هند کی د یوی لوری طبقی غیر قانونی شوی ملیشی غړو د هند په یوه کلی باندی حمله کړی او د ټیټی طبقی ۳٤ تنه یی قتل عام کړیدی

د هند د بهار په ایالت کی د نژادی او قامی نا کراریو په لړ کی د ښځو او ماشومانو په شمول د ټیټی طبقی ۳٤۰ هندوان وژل شویدی حکومت وایی دا کار هغو شخصی ملیشو کړی چی د دغه ایالت لویو لویو جاگیر دارانو د خپل حفاظت له پاره ساتلی دی.

پولیس وایی چی د رنگویل په نامه د شخصی ملیشی عسکرو ورمه شپه د

٤ مخ

دومـــین ساختمان ۱۸ طبقه يي در شهر کـــابل زیر تعمیر است

اکـــمال این ساختمان ۸ ســـال را در بر میگیرد

دستگـــاه ساختماني افغاني کار اعمار این کمـپلکس را به عهده دارد

از چندي بدینسو کار احداث یك پروژه جدید ساختماني در خیابان شهر کابل وسیعاً جریان دارد، خبرنگار ما به منظور تنویر اذهان عامه در رابطه به کار این پروژه صحبت اجمالي را با محترم دیپلوم انجنیر محمد صدیق آمر پروژه مزبور انجام داده است که توجه شما عزیز دوستان را به خوانش آن فرامیخوانیم :

در آغاز محترم انجنیر محمد

ص ۳

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د ښښنی د نړیوالی ټولنی د رپوټ په هکله

په دی وروستیو کی یو ځلی بیا په اصطلاح د ښښنی نړیوالی ټولنی خپلی پخوانی دوسیی راسپړلی او په اسلامی امارت یی په بشری حقونو د تیري تورونه لگولی.

د ښښنی د نړیوالی ټولنی دغه حرکت په داسی مهال کی تر سره کیږی چی زموږ مسلمان ملت د خپلو نورو مصیبتونو افتونو، ستونزو او مشکلاتو تر څنگ د وچکالي له کورو راتونکی مصیبت سره هم لاس و گریوان دی.

اصلاً خو په دغسی زړه دردونکو حالاتو کی د بشری سالم ضمیر او انسانی عاطفی تقاضا دا وی چی یو انسان له بل مصیبت ځپلی انسان سره

۲ مخ

در کوریاي جنوبي مظاهره گسترده علیه سیاست امریکا براه انداخته شد

مظاهره گسترده يي علیه سیاست ایالات متحده امریکا در کوریاي جنوبي دیروز در سیول پایتخت آنکشور براه انداخته شد.

در جریان این تظاهرات بر خورد هاي میان نیرو هاي امنیتي و مظاهره کننده گان بوقوع پیوست.

ص ٤

ملل متحد از آتش بس بین ایتوپیا و اریتریا حمایت کرد

کوفي عنان سر منشي سازمان ملل متحد گفته است از موافقتنامه جدید آتش بس بین کشور هاي ایتوپیا و اریتریا حمایت مي نماید.

موصوف گفت سازمان ملل متحد در پایان دادن به جنگ سرحدي دو ساله میان ایتوپیا و اریتریا نقش اساسي ایفا نموده است.

ص ٤

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤٧١) کابل – افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩

جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مركز

چاپ : امارتي مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

مرسته وکړی د هغه په درد او غم خبر او په مصیبت کی ورسره ځان شریک وبولی .

خو د ننی مترقی نړی او په ځانګړی توګه د ملګرو ملتونو سازمان او همدارنګه د بښنی د نړیوالی ټولنی تعامل او برخورد د ټولو پورتنیو انسانی او اخلاقی معیارونو بر عکس عیار شوی.

په داسی حال کی چی زمونږ مسلمان مجاهد ملت د کمونیزم استعماری ګذارونو سخت ژوبل کړی، له هغه را وروسته خپل منځی بدمرغیو او تنظیمی بدبختیو تر بدو بتر کړی، او لا تر اوسه پوری د هیواد د دښمنانو او په هیواد کی د حاکم اسلامی نظام د مخالفینو لخوا د جنګ په لمبو کی کړیږی.

په دغو ناوړه زړه دردونکو حالاتو کی زمونږ مومن ملت په ټولو نړیوالو انسانی او اخلاقی حق لری چی په ژغورنه کی یی هلی ځلی وکړی، په مصیبت کی ځان ورسره ګډ او په زخمونو ئی ملهم وکیږدی خو دا چی نن د ملګرو ملتونو سازمان، د بښنی نړیواله ټولنه او په ځانګړی توګه د امریکا متحده ایالات نن د ټولو بشری موازینو او انسانی غوښتنو په خلاف قدم پورته کوی، ددی ځوریدلی ملت په خلاف ناروا بندیزونه لګوی، د هغوی په زخمونو باندی مالګی وردوړوی او د انسانی مرستو په ځای ورته له نفرت او دښمنی نه ډک ګوابنونه کوی ښایی دا به د هغوی د خپل غربی انسانیت د تمدن او ترقی زیږنده وی.

که ربښتیا هم هغوی د خپلو دغو غیر انسانی کړو وړو لامل د اسلامی امارت لخوا د بشر په حقونو تیری تلقی کوی نو دا خو په نړی کی په خپله د هغو حکومتونو لخوا تر سره کیږی چی امریکایې حمایت کوی.

ایا په چیچنیا کی د روسانو لخوا ژوندی انسانان تر ټانګونو نه لاندی کیږی ؟ایا په فلسطین کي د غاصبو یهودانو لخوا د فلسطینیانو کورونه نه سوځول کیږی او د ښځو په عفت تیری نه کیږی ؟ ایا په کشمیر کی د هندوانو لخوا ژوندی انسانان په اور کی نه سوځول کیږی ؟ ایا په کوسوا کی د ملحدو صربانو لخوا د مسلمانانو مالونه او ملکیتونه نه غصب کیږی ؟

هو! هلته هم دغه ټول کړه وړه تر سره کیږی او د نړیوالو تلویزیونونو او مطبوعاتو لخوا هر چا ته‌ور تر سترګو کیږی خو د بښنی د نړیوالی ټولنی په دوسیو کی یی د هغوی په هکله یوه پاڼه هم نه لیدل کیږی ، د هغوی په خلاف هیچ بندیز نه او نه هم هغوی ته څوک ګواښ کولی شی خو زمونږ په مسلمان هیواد چی د ۹۵ فیصده خلکو په غوځ اکثریت سره هغه نظام پکی حاکم دی چی د پلی کیدو لپاره یی یو نیم ملیون انسانان قربانی شوی،

هغه نظام چی په سیاسی، مذهبی، اخلاقی او عنعنوی لحاظ په بشپړه توګه د افغانانو له غوښتنی سره سمون لری، هغه نظام چی اوس یی هم مسلمان ملت د ساتنی لپاره هر راز قربانی ته چمتو دی او بالاخره هغه نظام چی ټولو نړیوالو ته یی د ملی او بین المللی قضایاو د سالم حل لپاره د معقولو او منطقی حل لارو وړاندیز کړی تر داسی ګواښونو لاندی راغلی او په خلاف یی راز راز بندیزونه لګیدلی او تقریباً میاشت په میاشت د بښنی د نړیوالی ټولنی لخوا یو ریوټ وریاندی لیکل کیږی.

د افغانستان مجاهد ملت په دی پوره باور لری چی نړیوال کفر په نړی کی هیڅ داسی قوت نشی زغملای چی د هغوی د غوښتنو خلاف غږ پورته کړی او په دی هم په بشپړه توګه پوهیږی چی د واقعی اسلامی حکومت لاره تل له داسی کړاونو څخه ډکه وی خو وروستی بری بیا د حق د پلویانو په برخه وي.

د افغانستان اسلامی امارت په صراحت سره دا خبره بیا ، بیا په ډاګه کوی چی د خپل مسلمان ملت د بشپړی سوکالی او نیک مرغی لپاره به له هیڅ راز قربانی څخه دریغ نه کوی او په تکرار سره په دی ټینګار کوی چی د ټولو قضایا و سالم حل په مذاکراتو او منطقی تفاهم کی مضمر دی نه په زور او تهدید کی.

نبوی سیاست زمونږ د اوسنیو ستونزو یوازنی حل

فاروق

الله عزوجل خپل نازولی پیغمبر د یو ډیر لوی مقصد لپاره رالیږلی او د هغه په اوږو یی شانه درونډ بار ایښی و او هغه دا چی د نړی د ولسونو د ژوند نیو کړو وړو نه علاوه د هغوی د زړه عقاید او پتی انګیرنی په هم بدلوی او د خلکو د هغو مقدساتو او منل شویو بنسټونو په خلاف به مخامخ مورچل نیسی چی له پیړیو راهیسی له نیکو نیکو وریاتی و د هغوی ټول بد ظالمانه او جاهلی رواجونه او دودونه به له منځه وړی او همهاغه ژوندی نسل به په یو ځل په بل مخ اړوی نو که سړی لږ ځیر شی دا یو ډیر درونډ مسوولیت او خورا سخته دنده ده او زمونږ د اوسنی زمانی اسلامی بلونکو ته ددی کار ستونزی ډیری ښی څرګندیږی چی څرنګه په آشنا او مسلمو خبرو کی دومره مشکلات پیښیږی چی د دعوت ګرانو مخه وچه بندوی، په داسی حال کی چی خلک به هغه ټولی خبری منی، درواج او دود سره به یی ټکر نه لری او په سپکښتیا به یی هم ګروهی وی خو بیا هم نه شو کولای یی ستونزو د دعوت په لاره پر مخ ولاړ شو نو د یو ملت ټول دود دستور او انګیرنی له بوی مخی بدلول خو بیخی سخت کار دی خو له دی سره سره بیا هم که سړی د اسلامی دعوت ځانګړنی او حکیمانه تګلاری په غور وڅیری نو پوهیږی چی ربښتیا هم که په همهاغه نقشه عمل وشی او په هغه لیکه سړی پر مخ ولاړ شی، ډیر خنډونه به یی له مخی لری او په آسانی سره به د ولسونو په ژوندانه کی بدلون راوستل شی، ددعوت په لار کی د همدغو مشکلاتو د حل لپاره الله عزوجل خپل نازولی ستر پیغمبر ته د خپل سپیڅلی کلام په یوه ایت کی یو پنځه نکاتی پلان ورکړی او ویلی یی دی . ژباړه (د الله په رحمت سره دوی ته نرم شوی، که ته بد خویه سخت زړی وای نو له خوا به دی ترهیدلی وو ،نو بخښنه ورته کوه مغفرت ورته غواړه او په کار کی

ورسره خو ښه سلا کوه، او کله چی کومه خبره دی غوټه کړه بیا په الله بروسه وکړه / آل عمران ۱۵۹) په پورتنی آیت کی لومړی ماده د خلکو سره په معامله او کړو وړو کی نرمی ده، ما نا دا چی په نه څه خبره زر زر په غوسه کیدل او په وړو وړو خبرو د خلکو سره ناندری وهلو نه باید ځان وسائل شی، کومه خبره او ګوت نیونه چی زمونږ شخصیت ته متوجه وی ښایی تر ډیره بریده مخ تری واړوو او سر پری ونه خوږوو ځکه یو خو په دی ډول سړی بی ځایه بوختیږی او بل د خلکو په وړاندی یی هیبت او درنښت هم له منځه ځی او کیدای شی د سړی په سپکاوی تمامه شی په نرمی او زغم خورا سخت او ګران کارونه آسانه کیږی او د خلکو پراخ ملاتړ تر لاسه کیږی او دا ځکه چی که هره ورځ څوک په یوه وړه خبره او څوک په بله وړه خبره ورټل شی نو تر ماښامه په د مخالفینو یو لوی لښکر را نه جوړ شوی وی، خو که هره ورځ د یو شمیر خلکو د وړو وړو خطا و نه تیریده وشی تر ماښامه به مو یو زیات شمیر دوستان او ملګری پیدا کړی وی دو همه خبره د خلکو د هغو تیریو په مقابل کی بخښنه ده چی زمونږ د شخصیت په خلاف یی سرته رسوی یعنی په ځانی ډول یی مونږ ته کوم ضرر رسولی او رېړولی یو، دوی ته هم باید بخښنه وشی او هیڅکله باید د شخصی کسات اخیستلو په جذبه عمل ونه کړو او که د شخصی غچ اخیستلو موضوع بیا د دینی سزاګانو په پوښو کی ویپچو، دا به لا پسی زیاته بدبختی وی ځکه مخالف لوری به دا ګمان کوی چی ښایی « دین » همدغه سزا راکړ، نو کیدای شی له « دین » څخه کرکه لا زیاته شی او بله دا چی کله هم مخالف لوری په دی وپوهیږی او باور وکړی چی د چا د ځانی

غچ اخیستنی ښکار به نه شی او د بخښنی او لورینی سره به مخامخ شی نو ډیر امکان لری چی د مخالفت نه لاس واخلی او له اسلامی دعوت سره مرسته پیل کړی، ځکه په سرسری کتو هم سړی ته ښکاری چی د اسلامی بلنی په مخالفت کی یو شمیر داسی څیری هم شته چی د کسات اخیستلو له ویری نه را نږدی کیږی.

دریمه خبره دا ده چی داعی باید په دی وپوهیږی چی مخالفت کوونکی وګړي تر هر څه زیات د الله ګناهګار دی او د هغوی شخصی عمل خو څه زمونږ سره ذاتی دښمنی نه ده، بلکی د الله بندګان دی او د الله د احکامو نه یی سرغړونه کړی ده نو په کار ده چی دعوتګران د الله تعالی نه ورته بخښنه وغواړی او که هر څومره مجرم وی خو بیا هم د هغه بندګان دی او کیدای شی لوی خدای «ج » به مغفرت ورته وکړی دا هم یوه عجیبه حکیمانه خبره ده او د اسلامی بلونکو یو زیات شمیر مشکلات کمولای شی.

څلورمه خبره – له خپلو مسلمانو وروڼو او د دعوت د لاری ملګرو سره سلا مشوره ده، په دی سره هغوی د خپلو مشرانو په هکله ښه باوری کیږی. ملګرتیا یی ورسره ټینګیږی او کشران هم د مشرانو سره یو ځای د را پیښو ستونزو په حل کی غور او څیړنه کوی او لاری چاری ورته سنجوی نو بیا که هر څومره لوی مشکل وړپیښ و د ټولو په ګډه ملګرتیا به خامخا ډیر په اسانه حل کیږی او ربښتیا هم مشوره ډیر یو اغیزمن توکی دی او ډیر حکمتونه پکی دی.

پنځمه خبره : دا ده چی باید د دعوت مشران د سلامشوری نه وروسته غوټه شوی

خبره د الله په توکل سره په کلک یقین او پاخه تدبیر عملی کړی او بیا په اراده کی څه تزلزل ورپیښ نه شی د مشوری نه وروسته چی کوم تصمیم نیول کیږی د هغه لپاره کلک هوډ د سړی له مخی ډیری ستونزی لری کوی او کلک عزم نور هم ډیر اسرار او حکمتونه لری. دا هغه پلان و چی الله عزوجل د خپلو بندګانو د اصلاح لپاره د اسلامی دعوت لاربنود حضرت محمد « ص » ته ورکړی هغه په ډیر دقت عملی کړی او پایلی یی نړی والو په خپلو سترګو لیدلي دی نو اوس که چیری د اسلامی بلنی لارویان په دغو اصولو عمل وکړی او هغه د خپلی تګلاری مثال وګرځوی . یقیناً ډیری ستونزی به حل او سختی لاری به ورته آسانی شی مونږ افغانان چی الحمد لله ټول مسلمانان یو او د خدای «ج » او رسول « ص » هره لارښوونه سپیڅلی او په عملی کولو کی یی له سرو ماله تیر یو په کار ده چی د حضرت رسول الله « ص » د پاک سیاست تابعداری وکړو او هغه لوی انسانی معیار چی ده مبارک ټاکلی او عملی کړی په سر سترګو ومنو او هغه « ص » چی د خپلو ملګرو او عامو مسلمانانو سره څرنګه سلوک او اخلاق درلودلی ، خپل کړو او په دی ډول یو پر بل اعتماد ټینګ کړو ، نو لری نه ده چی د دنیا او آخرت نیکمرغی او ښیګنی به مو په نصیب او د هر ډول بدبختیو نه به خلاص شو نن سبا چی د اسلام د ستر پیغمبر د بختور میلاد ورځی دی ښایی ټول مسلمانان د خپلو کړو وړو جاج واخلی او د راتلونکی لپاره هم کلک لوزو وکړی چی د نبوی اخلاقو او کړنلاری پیروی به کوی او په دوستی او دښمنی کی به همهاغه اصول په نظر کی نیسی کوم چی پیغمبر « ص » یی خپل امت ته ښوونه کړی او خپل ربښتینی ملګری یی وریاندی روزلی وو .

جنایات صهیونیستها در فلسطین

مجیب الرحمن

جنایات قرن بیستم همان جنایت استعمار است که دامنه اش بسیاري از کشور هاي دنیا را در این قرن فرا گرفته است این جنایت ، جنایت نازي ها و وفاشیست هاست که وحشیانه ترین جنگ را بوجود آوردند که تاریخ بشریت آن را در اوراق زرینش ثبت کرده است . جنایت غاصبانه فلسطین توسط صهیونیست ها استیلا و سلطه بر خانه ها ، کار خانه ها ، مغازه ها و مزرعه ها و تسلیم آنها به یهودیان خارجي است آري جنایت قرن بیستم همین جنایت است.

آري جنایت است چون همه اقسام ظلم (سیاسي، قانوني، انساني) را با خویش به همراه دارد وقتي عدل از اساسي ترین حقوق انساني است، ظلم مباح کننده تضمین معنوي حقوق مادي و غصب کننده این حقوق مسلمه مي باشد.

آري این جنایت قرن است چرا که عاملین آن هر روز با اسکان دادن و جابگزین کردن یهودیان بیشتر بر دامنه اش مي افزایند و به ان وسعت مي بخشند.

بلي این جنایت قرن است چرا که هنوز نیز میلیون ها فلسطیني آواره به این سو آن سو مي روند و حیران و درمانده اند. این جنایت چه وقت اتفاق افتاد ؟ ۱۵ مي سال ۱۹٤۸ اما این تاریخ پیش از خود جنایت ها و ظلم هاي بي شمار دیگري را دیده است . این جنایت چگونه ضربت هاي حساس خویش را بر نخاع حقوق بشري در این قرن فرود آورده است ؟

بلفور در سال ۱۹۱۷ بیانه، ظالمانه اي را صادر کرد که بر مبناي آن به یهودیان وعده داد تا کشوري مستقل بر ایشان در فلسطین ایجاد کند خلاصه جملات و بیانیه این انسان جنایتکار به صورت ذیل است :

« حکومت ما ، با دیده عطف و توجه ، تمام سعي و کوشش خود را در تاسیس یك دولت مستقل یهودي در فلسطین مبذول خواهد داشت و در این راه از هیچ کوششي فرو گذار نخواهد کرد » این بیانیه تصویر کامل یك جنایت همه جانبه و فر گیر به یك ملت – فلسطین – است.

بالاخره طي سه عهد نامه عالمي ، دولت صهیونیستي اسرائیل تأسیس شد.

با اعلان تاسیس دولت اسرائیل در سال ۱۹٤۸ دو ابر قدرت بزرگ اتحاد جماهیر شوروي و ایالات متحده امریکا ، اسرائیل اشغالگر را که مي رود تا اثاري از فلسطین و مردم آن باقي نگذارد و بر تپه ها و منازل مسکوني فلسطینیان کشورش را بنا کند حمایت و در آغوش گرمي و محبت فشرند و عطف و توجه را نثار جانش ساختند.

شوروي همه متخصصین در امور تعلیم و تربیت، فزیك هسته اي اسلحه سازي، مهندسي، زراعت، معماري، جاسوسي و ترور را تقدیم اسرائیل نمود و تا کنون نیز یکي از بزرگترین کشور هاي بزرگ دنیا در این راستا یعني کمك هاي بشري به اسرائیل است. این درست در زماني صورت مي گیرد که شعار هاي دفاع از حقوق بشر تمام گوشه هاي دنیا را پر کرده است اما ایالات متحده امریکا اسرائیل را با مال ، سلاح، موقف سیاسي و معلومات تمکین بخشیده است جاي تعجب است، امریکا خود بر مبناي حق آزادي و حریت بنا شده است.

منشور و قانون اساسي امریکا نیز در اولین مواد خود ، آزادي را یکي از مهمترین و اساسي ترین حقوق انسان شمرده است جاي تعجب است چرا کسي که همیشه پرچم حقوق انسان را در دست دارد نباید به کسي اجازه دهد تا به حقوق هیچ انساني در دنیا تجاوز شود او باید هر دوستي از دوستان خود را به هدفي که دارد متوجه سازد. خود بیني و تکبر است که دوستي را انتخاب کند تا دوستي دیگر را متضرر سازد و آبرو و عزتش را در میدان حقوق انساني بریزد. خلاصه اینکه آیا فلسطینیان حق بازگشت به سرزمین و کشور شان را دارند ؟

جواب : آري قرار داد ها و عهد نامه هاي جهاني نیز بدین سوال این گونه جواب مي دهند .

۱- عهده نامه هاي عمومي جهاني :

الف – در یکي از عهد نامه هاي سازمان ملل آمده است : روابط دوستانه با کشور ها ، بر اساس احترام به مبدا مساوات حقوق اقوام است، هر کس مي تواند با دست خویش سر نوشت اش را تعتمین و معین سازه.

جمله اخر، اشاره و تاکید به حقوق فلسطینیان دارد ، آنان مانند دیگر انسانها ، در تعین سر نوشت خویش حقوقي دارند که آن : باز گشت، دولت و مقتضیات و خواسته هایش است.

ب – فقره اول ماده اول مؤید این مضمون است در این فقره در مورد حقوق اجتماعي اقتصادي و فرهنګي دولت ها آمده است :« همه گروهها و قوام حق تعین سر نوشت شان را دارند با توجه به این ماده مي توانند رژیم سیاسي خود را با ازادي کامل حفاظت نمایند و با حریت تام به رشد اقتصادي، اجتماعي و فرهنگي نایل آیند.

ج- فقره ۱ ماده اول عهد نامه هاي جهاني کشور ها ، حقوق مدني و سیاسي مواد بند ب را تایید مي کند.

۲- عده نامه هاي خصوصي :

سازمان عمومي ملل متحد در سپتامبر سال ۱۹٤۸ در مورد حق بازگشت فلسطینیان به کیان و وطن شان ماده زیر را صادر کرده است : سازمان عمومي مسئله فلسطین را مجدداً مورد بررسي قرار داده : بر این اساس پناهندگان و آوارگان فلسطیني بدون هیچ مشکلي مي توانند به کشور شان باز گردند. با طیب خاطر با همسایگان شان زندگي نمایند و آناني که نمي خواهند به سرزمین شان باز گردند خسارت ها و غرامت هاي مالي به آنان پرداخت گردد قرار داد فوق مشهور به قرار داد ۱۹٤ است . بر اساس این ماده منشور سازمان عمومي ملل متحد، فلسطینیان به یکي از حقوق اساسي خود که همانا بازگشت به وطن باشد دسترسي خواهند یافت اما چرا این حقوق در زماني که ندا هاي سازمان دفاع از حقوق بشر بلند است و سنگ

حمایت از حقوق انسانیت را به سینه مي زنند ضایع و تلف مي گردد ؟ آیا به خاطر اسرائیل، حقوق انساني پایمال مي گردد ؟ آیا به خاطر یهودیت، حقوق دیگر انسان ها ضایع مي گردد تا آنان در عیش و عشرت و رفاه بسر برند ؟ این گونه معلوم مي شود که امریکا خود در این دام اسرائیل گرفتار شده است، در چندي پیش کشف شده است که عده اي از جاسوس هاي موساد در امریکا مشغول فعالیت هستند. یکي از مسؤولان امریکایي به این مطلب اشاره کرده مي گوید : افراد قسم ٥ در FBI مدت یك سال است که مردي اسرائیلي را که در یکي از شرکت هاي امریکایي کار مي کند تعقیب کرده که همسرش در واشنگتن براي موساد مشغول وظیفه است خلاصه اینکه ما نمي توانیم در ایالات متحده ضد اسرائیل هیچ عملي انجام دهیم زیرا حقوق خود امریکایي ها تلف مي گردد . یکي از روز نامه هاي امریکا مي گوید که یهود و عرب دو برادرند: جمله فوق از دو حالت خارج نیست : دروغي است محض که از ان براي فریب مردم استفاده مي شود . احتمال درست بودن فرضي آن مي رود.

اگر بالفرض ما بگویم که یهود و عرب دو برادرند و یهودیان منسوب به سام (أبو العرب) مي باشند، نباید اسرائیل به مردم فلسطین که برادر شان هستند ظلم و جنایت روا دارند ؟

هیتلر از نظر نژادي با اروپایي ها و امریکایي ها بسیار نزدیکي دارد چرا اروپا و امریکا با سلاقي هاي روس در مقابل پسر کاکاي خود هیتلر و موسولیني ایستادند ؟

عراقي ها و کویتي ها هر دو عرب مي باشند چرا عراق به کویت حمله کرد و به مردمش ظلم نمود ؟ باید ظلم ظالم و باغي و لو اینکه با ما در ایمان و نسبت شریك باشد دفع و طرد شود چرا که : اگر دو گروه از مومنین با هم جنگ مي نمایند باید در بین شان صلح و آشتي آورد ، اما اگر یکي بر دیگري بغاوت کرد باید با باغي بجنگید. این چه بازیچه و یا تراژیدي است که ما را متاثر ساخته. نسبت دروغین اسرائیل تا مادامي که ظالم باشد و حقوق انساني را تلف سازد هیچ سودي نخواهد داشت.

محترم ملا عبدالحي «مطمئن» له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې :

اسلامی امارت د هیواد په بیا رغونه کی حیاتی بریاوی تر لاسه کړی

امـــــریکا او د هغـــــــوي ټول متحـــــدین له اســــــلامي امــــــارت سره د مقابلي ډګر ته راوتلي دي

زمــــونږ او منځـــــــــني اسیا د هیوادونو تر منـــــــځ ستونزي د خبرو له لاري حل کېداي شي

زیاتی ستونزی د افغانستان پخوانیو واکمنانو او ډلو ټپلو ته منسوبی دی د مثال په توګه د افغانستان اقتصادی مشکلات، د ښارونو ورانیدل، د تعلیم او تربیی ورانیدل او د بهرنیو هیوادونو لاسوهنه ټولی هغه ستونزی دی چی د افغانستان په اوبا کلنه سابقه پوری په عمومی توګه او په یویشت کلنه سابقه پوری په خصوصی توګه ارتباط لری اوس اسلامی امارت په دی لاره کی زیات شمیر حیاتی بریاوی لاس ته راوړی دی.

د مثال په توګه په افغانستان کی د بشپړ اسلامی شریعت نافذیدل چی ډیر خلک یی په دعوه کی ناکام شوی وو د احزابو د تعدد له منځه وړل ، د امنیت تامینول ، قتل ، غارت، غلا او زنا او هر قسم فساد بی حیایی او بد اخلاقی له منځه وړل ملی وحدت او واحد قیادت ممکن کول چی پخوایی چا تصور هم نشو کولی، پر دی کلتور او فرهنګ چی د ځینی ګوډاګیانو له لوری زموږ په ملت تحمیل شوی وو له منځه وړل او داسی نور ...

اوس موږ په لنډ ډول ویلی شو چی افغانستان له قومی او منطقوی اختلافاتو وساتل شو فرهنګ او کلتوز یی خپل شو او افغانستان د یو مستقل او د اسلامی ارمانونو سره سم د یوه واحد او قوی حکومت درلودونکی دی همدا وجه ده چی ددنیا هغه مغرور قوتونه چی د نړیوالی باداری هیله لری زموږ استقلال نشی زغملی او خندونه را پیدا کوی .

پوښتنه : ستاسی له نظره د روسانو په تیره بیا د ازبکستان د چارواکو د وروستیو ګواښونو لامل څه دی ؟

ځواب : د هغه ورځی نه چی د افغانستان اسلامی امارت پدی بریالی شو چی د افغانستان د مجاهد ملت ارمان پوره کړی او یوه مرکزی اسلامی اداره تشکیل شوه له نړیوال کفر سره سخت حسد پیدا شو پدی لړ کی لومړی امریکایان چی عرب مجاهد یی زموږ لپاره بهانه کړ او دغه عرب مجاهد اسامه بن لادن چی د جهاد په وخت کی افغانستان ته راغلی او په خلیج کی یی د امریکایی ځواکونو له اوسیدو سره هم خپل مخالفت څرګند کړی وو په هغه وخت کی هم دی په افغانستان کی وو او بیا چی دی په سودان کی اوسیده په هغه وخت کی هم امریکایانو د سودان له حکومت نه دده د ورسپارلو غوښتنه نه وه کړی خو چی اسلامی امارت د یو شمیر اسلامی هیوادونو له لوری په رسمیت وپیژندل شو نو له هغه روسته بیا د اسامه پر سر د امریکی اخطارونه پیل شول او پر افغانستان د کروز توغندیو حمله وشوه او لدی سره ټول هغه هیوادونه چی د امریکا متحدین او یایی تر تاثیر لاندی دی د اسلامی امارت په وړاندی ودریدل او تبلیغاتی او اقتصادی جګړه یی پیل کړه .

له بلی خوا روسان چی طبعاً د افغانستان له استقلال او ابادی سره مخالفت لری او له افغانانو څخه د انتقام اخیستنی ویره لری. زموږ د مستقل اسلامی حکومت سخت مخالف ووه همدا راز داویره ورسره پیدا شوه چی که په افغانستان کی سوله او وحدت او یو واقعی اسلامی نظام را منځ ته شی دا به په منځنی اسیا کی هغو مظلومو مسلمانانو ته ایدیالوژیک قوت ور په برخه کړی چی نیکونو یی د اسلامی خلافت ارمانونه قبرونو ته ور سره وړی وو .

په همـــدی وخت کی یی د چیچن په اسلامی جمهوریت باندی چی څو کاله وړاندی یی د یوه رســـمی پریکړه لیک په نتیجه کی ورسره سوله کړی وه بیا خپل وحشیانه بریدونه پیل کړل اسلامی امارت د اسلامی خواخوږی له مخی له خپلی اسلامی تګلاری سره سم دغه جمهوریت په رسمیت وپیژاند او د مسلمانانو پر سر مظالم یی غیر قانونی او وحشیانه تیری وباله چی دا کار د روسانو لپاره د اسلامی امارت په وړاندی د دښمنی یوه بله بهانه شوه د منځنی اسیا یو شمیر هیوادونه خصوصاً ازبکستان او تاجکستان چی په لمړی سر کی یی ځانونه آزاد اعلان کړل خو اوس د یو شمیر کفری قوتونو له لوری ورته د اسلامی افراطیت په عنوان د یو خطر ذهنیت ورکړل شویدی چی تر ډیرو ملی او حیاتی معیارونو یی تیر کړل یعنی د یوه کوچنی او احتمالی خطر په وړاندی ددغو هیوادونو د وجود خطر پیدا شو ځکه امریکا اوس غواړی چی هر یو له دغو هیوادونه ژر ځان ته مایل کړی وړباندی خپلی غوښتنی ومنی او د یوه او بل خطر په عنوان هغوی د ځان محتاج وګرځوی چی دا نو په اصطلاح د کریملین او سپینی مانی تر مینځ یوه ستره لوبه ده ځکه چی د مدلین البرایت او پوتین تاوده سفرونو یو په بل پسی تاجکستان او ازبکستان ته تر سره شول او هغوی دواړو دغو حکومتونو ته اسلامی امارت یو ستر خطر په ذهن کی ورکړ مسکو او واشنګتن هڅه وکړه چی دغه دواړه حکومتونو دی ته مجبوره کړی چی دوی نه همکاری وغواړی او لدی لاری نه خپل اهداف تر سره کړی که نه زما په فکر زموږ او د منځنی اسیا تر منځ مشکلات د خبرو له لاری په اسانی سره حل کیدلی شی.

پوښتنه : پدی وروستیو کی په امریکا کی د جګړو نړیوال کانفرانس دایر شوی و او په هغه کی د افغانی ښځو په نمایند ګی د راوا استازو ګډون کړی او په اسلامی امارت پوری تبلیغات کوی د هغوی په اړه ستاسو نظر څه دی ؟

ځواب : باید ووایم هر هغه څوک چی د کمونیزم په بی ساری جنایاتو پرده اچوی او د جهاد ، طالب او عالم د نومونو استهزا کوی د هغوی په وړاندی د جواب ضرورت نشته د هغوی له خبرو او اهدافو څخه په خپله د دوی پردی پاله او ګوډاګی څهره څرګندیدلای شی زما په عقیده د د راوا د ګوند په حبثر بی عفته او هیواد دښمنه حرکات د جواب ورکولو لایق ندی او د دوی اهداف هیڅ با شعوره او مسلمان افغان ته هیڅ وخت د منلو وړ ندی.

پوښتنه : د تر لاسه شویو معلوماتو له مخی د هیواد جنوب لویدیځی سیمی له وچکالی نه زیاتی متاثره شوی دی د هغه ځای د خلکو اوسنی حـــالت څرنګه دی ؟

ځواب : وچکالی هغه سیمی زیاتی ځپلی خو اسلامی امارت پدی لاره کی خپل ټول امکانات په کــار واچول د ۳ لکو په شاوخوا کی کوچی کورنی یی له وچکالی ځپلی سیـمی نه په خپلو عراده جاتو کی انتقال کړی او هغه خلک چی پداسی سیمو کی یی ژوند کاوه چی د تندی او لوږی له امله له جدی خطر سره مخامخ وه هلی کوپترونو کی یی خوراکی مواد او څښاک اوبه ورته ورسولی او رسوی یی اوس هم تر خپله وسه اسلامی امارت ددغه سیمو ستونځی له پامه ندی غورځولی ولی متاسفانه خیریه موسساتو په لومړی سر کی پدی لاره کی مرسته ونکړه او اوس یی یوه اندازه مرسته پیل کړه چی هغه هم کافی نده .

پوښتنه : د هیواد په جنوب لویدیځـــــو ســـیمـــو کی فرهنګی فعالیتونه تر کومه رسیدلی دی ؟

ځواب : په جنوب لویدیځه حـــوزه کی د کندهار او هرات فـرهنګی وضـعیت د بشپړه بریالیتوب او امیدواری په پړاو کی دی په کـــنـدهار کی دوه مجلی ، یوه ورځپانه او د ادبی انجمن خپرونی په منظم ډول خپریږی څو ټوکه شعری او ادبی او یو شمیر سیاسی کـــتابونه خــپــاره شـــول د ادبی او فرهنګـــی ورونو حلقه هم ګرمه ده فعالیتونه ادامه لری ، راډیو او عامه کتابتون هم فعال دی او په آینده کی د نورو پرمـــختګونه تصمیم او اراده هم لرو .

په هرات کی د هفت قلم مجله ، اتفـاق اســلام ورځپانې او ادبی انجمن خپرونه اورنګ هم په ښه صحافت او منظم ډول خپریږی راډیو فعاله ده فرهنګی مسوولین یی زیاتره ادبی او علـمی شخصیتونه دی چی د نوری شته ارتقا لپاره زیاته امیدواری لیدل کیږی.

پوښتنه : د هیواد متعهدو لیکوالو او شاعرانو ته که څه لری په شریعت اونیزه یې ولوروي؟

ځواب : له متعهدو لیکوالو او شاعرانو زمونږ هیله دا ده چی هر شعوری انسان باید یوه مشخصه تګلاره ولری دا یی ځایه ده چی ښه لیکنه یی طرفه لیکنه ده که چیری لیکنه هدف ونه لری نو هغه شعوری لیکنه نده موږ او تاسو چی د اسلام د مقدس دین په معیارونو باندی لیکنی کـوو نو باید پدی باندی د تل لپاره ویاړ وکړو ځکه چی هغه افغانی لیکوال چی په غربی راډیو ګانو او مطبوعاتو کی د زیاتو پیسو په مقابل کی کار کوی هیڅکله هم مونږ په چاپوری ترلی نشی بللی ځکه موږ خپل هیواد دین او ملی نوامیسو ته قلم وقف کړی او هغوی غربی او کفری ادارو ته کـــار کـوی نو ایا مـوږ آزاد یو کـــه دوی او یا هغـــه مطبـــوعـــات چی د غـربی دیموکراسی په بنیاد لیکنی کوی آیا هغوی پر دی فکر ته کـــار کــوی او کــه مـوږ څرنګه چي زمــونږ ډېرو ځوانانو د اسلامي ارمــــان د تحقق لپاره خپلي وينې نذرانه کـــري نو مسلمانو لیکــــوالو ته د اضـــرار ده چي خپـــل قلمونه د هغه ارمان د لاس ته راوړلو په لار کـــــېي پکار واچوي او خـــــپل اســـلامي او اخلاقي مسولیت پوره کړي .

> بایدووایم هر هغه څوک چی د کمونیزم په بی ساری جنایاتو پرده اچوی او د جهاد ، طالب او عالم د نومونو استهزا کوی د هغوی په وړاندی د جواب ضرورت نشته د هغوی له خبرو او اهدافو څخه په خپله د دوی پردی پاله او ګوډاګی څهره څرګندیدلای شی زما په عقیده د راوا د ګوند په حبثر بی عفته او هیواد دښمنه حرکات د جواب ورکولو لایق ندی او د دوی اهداف هیڅ با شعوره او مسلمان افغان ته هیڅ وخت د منلو وړ ندی.

> له متعهدو لیکوالو او شاعرانو زمونږ هیله دا ده چی هر شعوری انسان باید یوه مشخصه تګلاره ولری دا یی ځایه ده چی ښه لیکنه یی طرفه لیکنه ده که چیری لیکنه هدف ونه لری نو هغه شعوری لیکنه نده

دومین ساختمان ۱۸ طبقه یی در شهر کــــــابل ...

صدیق پیرامون کار این پروژه چنین توضیحات داد : این پروژه مربوط ریاست عمومي اتاقهاي تجارت و صنایع ا.ا.ا. میباشد که مساحت مجموعي آن ۱۰۰۰۰ متر مربع را احتوا میکند. هکذا مصرف این کمپلکس از عواید حاصله ریاست اتاقهاي تجارت تمویل گردیده و طرح و دیزیان آن توسط انجنیران ورزیده «پما» صورت گرفته است که مسؤولیت حال و آینده این نقشه متوجه «پما» خواهد بود.

وي افزود : کار اعمار این ساختمان را دستگاه ساختماني افغاني منحیث یگانه دستگاه فعال و مجرب پیش میبرد وي در برابر یك پرسش خبرنگار ما اظهار داشت : این پروژه که به شکل کمپلکس اعمار میگردد شامل یك تعمیر هجده منزله به مساحت ۱۰۰۰ متر مربع و یك تعمیر سه منزله (متصف به تعمیر ۱۸ طبقه یي) که حاوي یك بازار سر پوشیده تجارتي که مشتمل بر ۶۰۰ دکان است مي باشد.

در برابر یك پرسش دیگر محترم اجنیر صدیق چنین اظهار داشت : مقاومت طبقات این کمپلکس در مقال حوادث طبیعي از قبیل : قوه زلزله، قوه باد، وزن برف، رعد و برق، تحلیل و قوه تحمل زمین، دانه هاي تجربدي و انبساطي و ... دقیقاً سنجیده شده است؛ همچنان خدمات تخنیکي این ساختمان از قبیل : آبرساني، تهویه، مرکز گرمي، برق، لفت، سیستم مخابره و کلوریشن بطور همه جانبه مد نظر گرفته شده است.

وي این را هم افزود که در احداث این ساختمان مقررات اسلامي کاملاً رعایت گردیده است .

محترم انجنیر صدیق دلیل این امر را که چرا ساختمان هاي بلند منزل کابل بالاتر از ۱۸ طبقه احداث نمیگردد اینگونه واضح ساخت : این دومین ساختماني است که در سطح شهر کابل ۱۸ طبقه اعمار میشود ؛ مگر به این دلیل نیست که زمین کابل مقاومت بالاتر از ۱۸ منزل را نداشته باشد ؛ بلکه میتوان در عین موقعیت با اتخاذ و اهتمامات دقیق تر انجنیري بخصوص در بخش فوندیشن (تهداب ها) با در نظر گرفتن مصارف بیشتر و نیازمندي به ان طبقات بیشتر را احداث و تحت ساختمان قرار داد . این پروژه به اساس نیازمندي و فرمایش ریاست اتاق هاي تجارت به ۱۸ طبقه طرح و دیزاین و احداث گردیده است .

به عنوان آخرین پاسخ محترم انجنیر صدیق افزود : این ساختمان با در نظر داشت تسهیلاتي لازم دیزاین گردیده و کار اساسي فوندیشن آن قرار است ۸ سال بعد (۱۴۲۹) ق اختتام بپذیرد، مگر کار اتمام بازار سرپوشیده این تعمیر در ۳ منزل الي دو سال آینده انشا ء الله اکمال میگردد.

مهربان

د پکتیکا ولایت د ...

خبر راکړ په هغې غونډه کې چې له همدې امله د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالي د علماو او د قومونو سپین ږیرو او مخورو په ګډون جوړه شوې وه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو له لوستل کیدو وروسته د پکتیکا والي محترم مولوي عبالروف خدام د شرنې ښاروال محترم مولوي محمد کریم او ددغې ولسوالي ولسوال د قرآن مجید د تلاوت او د حفظ د فضیلت په اړه خبرې وکړې او له کرامو حافظانو نه یې وغوښتل چې د هیواد د بچیانو لپاره د قرآن مجید په حفظ او تدریس کې هلې ځلې وکړي.

وروسته د یو شمیر کرامو حافظانو پګړی وتړل شوې او خلکو او هیواد ته د خدمت په لاره کې د لوی خدای له دربار څخه یې د هغو د لازیاتو بریالیتوبونو هیله وکړه.

د یو بل خبر له مخې د پکتیکا والي محترم مولوي عبدالروف خدام پرون ددغه ولایت د سروبي او ګیلان د ولسوالیو د کتنې په ترڅ کې ددغو ولسوالیو امنیتي او اداري چارې وڅیړلې او په اړوندو مسولینو باندې یې ټینګار وکړ چې د خلکو لپاره د لازیات ښه خدمت او د هغوی د چاپیریال د ستونزو د لرې کولو په مقصد هلې ځلې وکړي.

د امریکي د لومالیندا او کابل پوهنتون تر منځ...

خپل سفر په ترڅ کې هغه خبرې چې د لومالیندا پوهنتون او د امریکا د ځینو نورو پوهنتونونو له مقاماتو سره وکړې د هغو توامیتونو بیا احیا کول چې له کمونیستي کودتا وروسته له منځه تللي و د علمي او فرهنګي اړیکو د ټینګښت په لاره کې یو ارزښتناک ګام وباله او وې ویل ددغو خبرو پر بنسټ د لومالیندا پوهنتون مقاماتو له کابل پوهنتون او له نورو تحصیلي موسسو سره د علمي اړیکو د لا زیات ټینګښت او پراختیا او توامیت د هغو قرار دادونو موادو د عملي کولو په کار کې چې پخوا لاسلیک شویدي د خوشحالي په څرګندولو سره ټینګار وکړ.

ده ددغو اړیکو د ټینګښت د علمي اړخونو په باره کې وویل د لومالیندا پوهنتون او د امریکا د نورو پوهنتونونو مقاماتو تیاري څرګند کړ چې د کابل د طب په انستیتوت کې د ستر کتابتون د جولو د تجهیزاتو او لابراتوارونو د بیا جوړولو او تدارک او د ستلایت او د کمپیوتر د دستګاه وو د جوړولو په ګډون په بیلا بیلو برخو کې د امریکایي پروفیسرانو او استادانو لپاره د استوګنې د ځای د تاکنې په لاره کې په کابل پوهنتون کې د مرکز په جوړولو سره پراخ فعالیتونه کیږي. لکه څنګه چې په دې وروستیو وختو کې ددغه پوهنتون هیأت په همدې مقصد کابل ته راغلی و.

ده زیاته کړه د اسلامي امارت هیأت دغه راز د نیو یارک ویرجینیا موریلند، واشنګټن دی سي جنوبي او شمالي کلیفورنیا او په سانفرانسسکو په ګډون د امریکا په څو ښارونو او ایالتونو کې له یو شمیر هغو افغاني استادانو او پوهانو سره د لیدنو کتنو په بهیر کې چې پخوا یې په کابل پوهنتون کې د لوست چارې پر مخ بیولې هیواد ته د بیا ستنیدو لپاره د هغوی پاملرنه جلب کړه او په سلو کې څه د پاسه ۷۵ دغو استادانو د هیواد بچیانو ته د خدمت په مقصد هیواد ته د ستنیدو د تیارۍ په څرګندولو سره له اسلامي امارت سره خپله هر راز همکاري اعلام کړه.

ه لوړو زده کړو محترم وزیر دغه راز د علمي او فرهنګي اړیکو د ټینګښت او د دوه اړخیزو مناسباتو د ټینګښت په لاره کې د لایسیرا له پوهنتون او د امریکا د جنوبي ایالت کلیفورنیا له پوهنتون سره د تفاهم لیکونو د لاسلیک کولو یاد ورکړ او وې ویل: هیله لرو د هغو مهمو توامیتونو د موادو په عملي کیدو سره چې پخوا لاسلیک شویدي او د هغو پیسو په تر لاسه کیدو سره چې د کلیفورنیا ایالت د لومالیندا پوهنتون د مشرتابه لخوا یې ژمنه شویده وکولی شو د علمي او تخصصي کادرونو د روزنې په لاره کې اوچت ګامونه واخلو او د هیواد راتلونکي نسل چې زموږ په اسلامي ټولنه کې د ځلاندې د یوې په توګه را منځته کیږي زموږ خلکو او اسلامي ټولنې ته د ګټورو ارزښتناکو خدمتونو جوګه شي.

د نړیوالو خیریه موسسو ...

ترڅ کې وویل نړیوالو خیریه موسسو او سازمانونو تر اوسه پورې د غور، بادغیس، فراه او د هرات د ولایتونو له خلکو سره چې د وچکالۍ له اغیزو زیانمن شویدي هیڅ راز بشر دوستانه مرسته نده کړې. او د افغانستان د اسلامي امارت په پام کې لري چې د افغاني سرې میاشتې د عالي ټولنې د نمایندګیو له لارې ددغو ولایتونو له مصیبت ځپلو خلکو سره مرسته او همکاري وکړي.

ده زیاته کړه موږ په پام کې لرو چې خوراکي مواد وپیرو او د افغاني سرې میاشتې د عالي ټولنې د نمایندګیو له لارې د غور، بادغیس او د فراه ولایتونو او د هرات ولایت اړوندو ولسوالیو ته ولیږدوو او په دغو ولایتونو کې یې په اړو او زیانمن شویو خلکو باندې وویشو.

محترم خیر خواه د هغو پرمختیایي پلانونو په باب چې په روان کال کې یې تر لاس لاندې لري وویل: د هرات ښار د سرکونو د ترمیمولو او بیا جوړولو کار پیل شویدی او په پام کې لرو چې د هرات له ښار نه تر هرا یې دګر پورې د سرک له بیا جوړولو وروسته د وسایلو او امکاناتو د برابرولو او تدارک په صورت کې د هرات کندهار، د لویې لارې د ترمیمولو او جوړولو کار هم زموږ د روان کال په پلان کې شامل دی. ده د شمال لویدیځ زون په اړوندو ولایتونو کې سولې او امنیت دادمن او با ثباته وبلل او زیاته یې کړه چې په شمال لویدیځ زون کې له سولې ییزو او ارامو شرایطو څخه په استفادې سره ملي سوداګرو ته زیاتې اسانتیاوې برابرې شویدي او له ممکنو لارو چارو څخه د هغوی ستونزې او مشکلات لرې شویدي او هڅه او هاند کوو چې د افغانستان د خلکو د مشکلاتو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د اړتیا ور لومړنیو موادو په واردولو سره له هغوی سره زیاتې مرستې وکړو.

محترم خیر خواه د ترکمنستان او ایران له هیوادونو سره سرحدي اړیکې ښې وبللې او زیاته یې کړه چې د ترکمنستان له هیواد سره هیڅ راز مشکل نلرو او له ایران سره زموږ مناسبات د ښه والي په حال کې دي او هیله لرو چې د دواړو خواوو تر منځ همکارۍ لا پسې پراخه شي.

په سعودي عربستان کې ...

په دې غونډه کې دیارلس کسیز کمیسیون هم وټاکل شو چې په ریاض کې میشتو افغانانو سره وګوري او په هیواد کې د وچکالۍ ځپلو خلکو له پاره د دوی مرستې را ټولې کړي. او د افغاني سرې میاشتې د ټولنې له لارې یې په مستحقینو وویشي.

دا خبره په ریاض کې د افغانستان د لوی سفارت سر پرست محترم مولوي عبدالوهاب په یوه مرکه کې وکړه:

محترم مولوي عبدالوهاب څرګنده کړه چې زموږ غونډې دوه اساسي هدفونه لرل اول هدف یې د روسانو د ړنګو غندنه او د هغه په مقابل کې د یووالي امکان و او دویم هدف یې په افغانستان کې د وچکالۍ ځپلو خلکو سره مرسته او د همدردۍ اظهار و.

په دې غونډه کې د دري سوو تنو په شاوخوا کې افغانان را ټول شوي و غونډه د شپې په نهو بجو د عظیم الشان قرآن په تلاوت سره پیل او په ۱۲ بجو پای ته ورسیده.

در ولایت پکتیا ۵۸ باب...

میدهد که مردم ولایت پکتیا به آموزش و پرورش اطفال شان در مدارس علاقه مندي فراوان دارند.

ریاست معارف ولایت پکتیا با درك این حقیقت به ترمیم و باز سازي مدارس تخریب شده پرداخته و تا کنون ۵۸ باب مدارس را در آنولایت ترمیم و باز سازي نموده است.

وي افزود امور تدریس ۱۸ هزار طالب العلم در ولایت پکتیا توسط سه صد و نزده تن استادان مجرب پیش برده میشود.

طي محفلي اطلاعنامه ...

گردیده بود بعد از تلاوت آیات متبرکه از قرآن مجید محترم مولوي عبدالهادي اخند زاده والي آنولایت طي صحبتي ضمن قدرداني از خدمات استادان در بخشي از سخنان خود خطاب به طالب العلمان گفت:

پدران شما با فدا نمودن جانهاي شیرین خویش ابر قدرت قطبي را به شکست مفتضحانه مواجه و حکومت مزدور و دست نشانده آنرا منهدم نمودند و شما که اینده سازان کشور خود میباشید بایست در جهت کسب علم و دانش جد و جهد همه جانبه نموده و با سلاح بران علم و دانش و ایمان قوي بخداوند همانند پدران و نیاکان خویش در هر لحظه آماده دفاع از تمامیت ارضي کشور و مقابله با دشمنان دین و وطن خویش بوده و همانند گذشته به دشمنان خویش جواب دندان شکن دهید.

سپس محترم مولوي غلام الله مسؤول دارالایتام مرکزي در رابطه نقش ارزنده علم و معرفت صحبت نموده و محفل با توزیع اطلاع نامه هاي طالب العلمان خاتمه یافت.

ملل متحد از آتش بس ...

این موافقتنامه قرار است امروز در الجزیره پایتخت کشور الجزایر تحت نظارت سازمان وحدت افریقا به امضاً برسد.

طبق این موافقتنامه سرحدات مورد اختلاف میان دو کشور تعین و نیروي حفظ سازمان ملل متحد در آن مستقر خواهد گردید.

ایتوپیا میگوید قبل از استقرار نیرو هاي حفظ صلح در منطقه مذکور نیرو هاي خود را از اریتیریا خارج نخواهد کرد.

در کوریاي جنوبي مظاهره...

به گزارش منابع خبري بین المللي مظاهره کننده گان ضمن تشکیل اجتماع در برابر پایگاه نظامي ایالات متحده امریکا در کوریاي جنوبي موسوم به کوناي علیه فعالیت هاي این پایگاه اعتراض کردند.

در جریان برخورد میان مظاهره کننده گان و افراد پولیس حدود ده نفر مجروح گردیدند.

باشنده گان اطراف این پایگاه نظامي که بار ها با بر گذاري تظاهرات خواستار خروج این پایگاه از کشور شان شده اند.

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

Caption: د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

د وچکالي د اغیزو د مخنیوي لپاره ...

وچکالۍ سره مخامخ شوي د یوه منظم پروګرام له مخې د امارتي نقلیه وسایطو په وسیله له دغو سیمو څخه نورو خوندي سیمو ته چې نسبتاً او په اوږ ځایونه لري لیږدولي او څه نا څه د خوراکي موادو مرستې هم ورسره وشوې البته موږ د رواني وچکالۍ موضوع چې ناوړه اثرات یې ورځ تر ورځې پراختیا مومي د یوه وراندیز په ترڅ کې د افغانستان د اسلامي امارت مقاماتو ته وړاندې کړه چې د ا.ا.ا له لوري په لومړي پړاو کې د ۱۱۴۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ منظور او تخصیص کړې شوې دغه راز موږ له بهرنیو موسسو څخه هم په دې باب د مرستې غوښتنې کړې تر څو خلکو ژغورنې او له هغوی سره مرستې کولو ته ځانونه چمتو کړي.

ده زیاته کړه د کرنې په برخه کې په تیر ۱۴۲۰ کال کې د اتو تنو په اندازه اصلاح شوي تخمونه پر بزګرانو باندې وېشل شوي او همدارنګه د بزګرانو د فني روزنې په خاطر مو همدا اوس یو روزنیز کورس د نباتاتو د ساتنې او د حیواناتو د روغتیا په خاطر په کابل کې دایر کړی او په راتلونکې کې په نظر کې لرو چې د دا ډول کورسونو په شمیر کې زیاتوالی راولو.

دی زیاتوي: موږ د افغانستان د اسلامي امارت د ځانګړې پاملرنې په نتیجه کې په دې وروستیو وختو کې یو شمیر تراکتورونه له بهرنه پیرودلي او هیواد ته مو راوارد کړي چې د خصوصي سکتور په برخه کې به ګټه ورنه واخیستل شي، البته هر هغه څوک چې دې ته اماده ګي ولري چې زراعتي ماشین آلات او تراکتورونه په خصوصي ډول له بهر نه هیواد ته راوارد کړي موږ به یې تود هر کلی وکړو چې دا کار به د هیواد په کرنیز سیستم کې ډیر ګټور ثابت شي.

نوموړي وایي: زموږ زراعتي او اقتصادي نظام د سوسیالیستي او کمونیستي نظامونو تر تاثیر لاندې راغلی وه چې اسلامي اقتصادي نظام سره یې بشپړ توپیر او مغایرت درلود اسلامي اقتصادي نظام د بشر د ژوندانه تر ټولو ټینګ او مستحکم نظام دی. موږ هلې ځلې کوو تر څو په دې هکله تبلیغاتي خپروني پیل کړو او په دې وسیله خلک له اسلامي اقتصادي نظام سره آشنا کړو البته څرګنده خبره ده هر هغه نظام چې له اسلامي اصولو سره ضدیت ولري هغه یې ګټې دي.

په پای کې د کرنې وزیر محترم مولوي منصور وویل: زموږ ملت اوس له سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ دی البته خلک دا توان نه لري چې برمې ووهي او د ځمکې لاندې اوبو څخه استفاده وکړي ددښتو او بیدیاوو په باب هم یو لړ ستونزې شته چې ځینې یې امارتي، ځینې یې د خلکو مالچر او یو شمیر نورو پر سر یې هم د خلکو تر منځ ناندرۍ رواني دي تر هغه وخته پورې چې په دې اړوند روښانه دریځ څرګند نشي پر خلکو ویشل یې مناسب نه بریښي البته په دې اړوند یوه مناسبه مقرره جوړه شوې او اوس یې تقنیني اړخ مخ په بشپړیدو دی. چې د افغانستان د اسلامي امارت د محترم مقام له تائید او منظورۍ وروسته به کار پورې پیل شي ددغو دښتو په ابادولو سره به زموږ هیواد لا سمسور او اقتصاد به مو پیاوړی شي او په دې توګه به تر لویې اندازې پورې زموږ هیواد وال په خپلو متو شکي شي. الله پاک دې موږ ته دا توفیق را کړي چې د کار او عمل په ډګر کې نوموړې پروسه په بریالیتوب سره سرته ورسوو.

په هند کې د نژادي...

میاپر کلي ته ورغلل خلک یې د کورونو نه را وویستل او بارونه یې پرې وچلول.

وژل شوي کسان د لادا او قوم ګوجران وو پولیس وایي چې تیره اوونۍ د لوړې طبقې لس دولس کسان وژلي شوي وو دا اوسنی قتل عام د هغه انتقام دی.

د جون د میاشتې له پیل نه د بهار په غریب ایالت کې چې یې امنیتي هم په کې زیاته ده په لسګونو کسان په دغسې قامي نښتو کې وژل شویدي.

د. هرات ولایت په ...

ولایت د مرکز او د اړوندو ولسوالیو د مدرسو د مدیرانو په ګډون جوړه شوې وه په دې ترڅ کې چې په دغو مدرسو کې د لوست د چارو د پر مخبیولو د څرنګوالي او په نهاري او لیلیه مدرسو کې د تعلیمي نصاب په اړه خبرې وشوې ددغه ولایت په مدرسو کې د تعلیمي لایحو د لابه تطبیق په خاطر لازم تصمیمونه ونیول شول.

دغه راز په غونډه کې د ځینو مدرسو د تعلیمي ستونزو او مشکلاتو په باب هم خبرې وشوې او د هغو د ستونزو د لرې کولو په خاطر اړندو مسولینو ته لازمې لارښوونې وشوې.

د خوست ولایت عالمانو مشرانو او خلکو پرون د یوې غونډې په ترڅ کې:

د افغانستان د اسلامي امارت پر ضد د ملګرو ملتونو بندیزونه وغندل

د خوست ولایت عالمانو، مشرانو او خلکو پرون د یوې غونډې په ترڅ کې د افغانستان د اسلامي امارت پر ضد د روسیې ګواښونه او د ملګرو ملتو بندیزونه وغندل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه غونډه چې ددغه ولایت د عالمانو شورا په نوبت او د خوست د والي محترم ملا عبدالروف عارف د ادارو د چارواکو او ددغه ولایت د عالمانو مشرانو او زیات شمیر خلکو په ګډون جوړه شوې وه د خوست محترم والي او یو شمیر ویناوالو په دې ترڅ کې چې د افغانستان د اسلامي امارت پر ضد یې د روسیې ګواښونه د ملګرو ملتو د سازمان بندیزونه وغندل څرګنده یې کړه د خوست ولایت خلک زموږ د نورو هیوادوالو تر څنګ هر شیبه د ځمکې بشپړتیا دفاع او د دین او هیواد له دښمنانو سره مبارزې ته تیار دي او روسان باید پداسې بې شرمۍ او له تعقل څخه لرې په افغانستان کې خپل بخت یو ځل بیا ونه ازمایي. دغه راز ویناوالو د ملګرو ملتو د سازمان اقتصادي بندیزونه له انصاف نه لرې او د نړیوالو موازینو او قوانینو پر خلاف یو عمل وباله او د ملګرو ملتو د سازمان له امنیت شورا نه یې وغوښتل چې له انصاف نه لرې ددغو بندیزونو په باب نوې نظر وکړي ځکه ددغه شان بندیزونو په لګولو او سختولو سره بوازې د افغانستان عامه خلک زیانمن کیږي.

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirate of Afghanistan

Chief Editor: Abdurrahim Saqeb

Printed by: Emirate's Printing Press